ناشناس فرانسوي شاعر

ژباړه: فرهاد وياړ

ملګريه،

له ما پوښتي چي ولي مورچلي جوړو

درته وايم،

ملګريه:

مرګ لکه اورګاړی له واټونو تيريږي

په هري خلوري لاري کي

د مرګ زرګونه سيوري مونږه لټوي

چي نومونه يي:

پيسي،

اتم،

سياست،

بردګي

او بی عدالتي

او نښان يي ډانګ دی،

هغه ځواک چي مونږه ځپي.

زمونږ مورچل د اعتراض فرياد دی

زمونږ جنګ، له شپي سره د ورځي جګړه ده

او د ليکلو آزادي زمونږه هڅه ده.

راشه ملګريه،

زمونږ له مرچلونو سره ځای شه

لمر زمونږ په لاسونو کي ځليږي.